د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

دولت جمهوری اسلامی افغانستان

د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت

وزارت اطلاعات و فرهنگ

# د هنرستان ریاست د داخلي دندو کړنلاره

کال: ۱۳۹۵ ل.ل

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

**د وضعې اړتیا**

**لومړۍ ماده:**

دا کړنلاره د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنرستان ریاست اړوند چارو د ښه ترسره کولو په موخه وضعه شوې ده.

**موخې**

**دویمه ماده:**

د دې کړنلارې موخې په لاندې ډول دي:

۱ – د هېواد د اصیل فرهنګ د ژوندي ساتلو په موخه د هنرمندانو د هنري اثارو د ساتنې، پالنې او راټولونې مېکانیزم جوړول.

۲ – د مادي او معنوي ارزښت د بیې ټاکلو په موخه د هنري، تاریخي او معاصرو اثارو د ارزونې میکانیزم جوړول.

۳ – د هېواد دننه او بهر کې د تجسمي هنرونو د پېژندنې په موخه د هنري نندارتونونو د زمینو چمتو کول.

۴ – په عملي او نظري بڼه د ښوونیزو ورکشاپونو او تجسمي هنرونو د سمینارونو دایرولو په موخه د کورنیو او بهرنیو بنسټونو د مرستو جلب.

**اصطلاحات**

**درېیمه ماده:**

دا اصطلاحات په دې کړنلاره کې لاندې مفاهیم افاده کوي:

۱ – کتلاک: یوه چاپي رساله ده، چې په هغه کې هنرمندان او د هغوی اثار پېژندل شوي وي.

۲ – ترمیم: د هنري اثارو بیا جوړونه.

۳ – ډیکور: په سمو او مناسبو ځایونو کې د اثارو نصبول، چې په سم ډول ولیدل شي.

۴ – مجسم: د هغو اثارو لپاره اطلاق کېږي لکه: نقاشي، خطاطي، میناتوري، تراشل (کندن کاري) او ګرافیک.

۵ – آرشیف: په تخنیکي او علمي ډول د هنري، فرهنګي او تاریخي اثارو ساتنه.

٦ – فرهنګ: د یوې ټولنې ټول مادي او معنوي ارزښتونه دي.

۷ – هنر: فن، صنعت او د عالي کارونو ښکارندويي.

۸ – نقاشي: په کاغذ، کنوس او یا نورو څېزونو رنګول یا انځورول.

۹ – ګرافیک: یو ډول انځورونه او لیکنه ده او یا هم د لیک په وسیله د یو شي څرګندول.

۱۰ – لاسي صنایع: هغه ظریف او ښکلي لاسي کارونه دي چې ځانګړې ښکلا لري.

۱۱ – کرشنیل اوبدنه : د نخي تارونو په مرسته ورېشنل.

۱۲ – مجسمه جوړونه: د موم او ګچ په مرسته د انسان، حیوان یا بل څیز جوړول.

۱۳ – د ماشومانو هنر: د کاغذ پر مخ او په نورو څېزونو د ماشومانو د احساساتو رسامي.

۱۴ – میناتوري: د انځورګرۍ یوه ځانګړې لار او هنر دی، چې هنري ذوق یې د هر لیدونکي پام ځان ته را اړوي.

۱۵ – کارتون: خندونکي انځورونه (خندونکي شکلونه) نقاشي کول.

١٦ – خطاطي: د قلم، نی او یا برس په مرسته لیکل.

۱۷ – رسم: د پنسیل قلم، برس، پاستل موی او سکرو په مرسته د یوه معنا لرونکي انځور انځورول.

**<u>د هنرستان ریاست</u>**

**څلورمه ماده:**

(۱) د هنرستان ریاست د فرهنګي معینیت په تشکیل کې یو هنري – فرهنګي واحد دی، چې د رامنځته کېدو موخه یې د هنري – فرهنګي خدمتونو وړاندې کول دي او د دې تر څنګ د تجسمي هنرونو زده کړې او د هېواد د هنرمندانو د اثارو د ساتنې لپاره کار کوي.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې ثبت شوی ریاست له دوو آمریتونو څخه جوړ دی ، چې هر واحد د یوه ځانګړي ماموریت د چارو د ترسره کولو دنده لري.

## دویم فصل

## د ملي ګالرۍ آمریت

**<u>د ملي ګالرۍ آمریت</u>**

**پنځمه ماده:**

د ملي ګالري آمریت فعالیتونه په لاندې ډول دي:

۱- د هېواد دننه او بهر د لیدونکو لپاره د هنري اثارو او د هېواد د هنر او هنرمندانو د ورپېژندنې په موخه د نندارتونونو دایرول.

۲ – د ملي ګالرۍ اړوند د هنري اثارو د ویجاړۍ راپور ور کول.

۳ – د هېواد د مرکز او ولایتونو په ګڼ مېشتو سیمو کې د ملي ګالرۍ د استازولیو جوړول.

۴ – د ولایتي ګالریو لیدل او څېړل.

۵ – په مرکز او ولایتونو کې د خصوصي ګالریو له کړنو څار او څېړنه.

٦ – په ملي ګالرۍ کې د شته اثارو رغونه، ساتنه او پالنه.

۷ – د اثارو او د هېواد د معاصرو هنرمندانو د پېژندنې په موخه د کتلاکونو برابرول او چاپول.

۸ – د مرکز او ولایتونو د ګالریو د پیاوړي کولو په موخه، د هېواد له معاصرو او پېژندل شویو هنرمندانو څخه د لومړي لاس اثارو اخیستل.

۹ – د ملي ګالرۍ د هنري اثارو او انځورونو ارشیف جوړول.

۱۰ – د هیواد د مختلفو بنسټونو د هغو هنري اثارو رغول، چې د رغولو لپاره یې مراجعه کوي.

۱۱ – د اړوندو ادارو د غوښتنې او د اثارو د پېر (خریداري) په نظر کې نیولو سره د هېواد د هنرمندانو د نایابه اثارو په مرسته د دولتي او غیردولتي ادارو ډیکور او ښکلي کول.

۱۲ – د ځوان نسل لپاره د هېواد د هنر او فرهنګ پېژندنې په اړه له ملي ګالرۍ څخه د زده کوونکو، محصلانو او هنر مینوالو د لیدنې په موخه د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، لوړو زده کړو وزارت، پوهنې وزارت او نورو دولتي اوغیر دولتي بنسټونو تر منځ د تړونونو د لاسلیک لپاره د زمینو چمتو کول.

۱۳ – د کاپي رایت قانون په نظر کې نیولو سره د هېواد د کارپوهو او با تجربه هنرمندانو په مرسته، د هېواد د پخوانیو هنرمندانو آثار چې له ګواښ سره مخ دي بیارغول،.

۱۴ – د دندې اړوند نور مسؤلیتونه، چې د وزارت له قوانینو، مقررو او ستراتیژیکو موخو سره سم د چارواکو له لوري سپارل کېږي.

**<u>د ملي ګالرۍ مسؤلیتونه</u>**

**شپږمه ماده:**

د ولایتي ګالریو په تړاو ملي ګالرۍ لاندې مسؤلیتونه لري:

۱ – د ګالرۍ د ځانګړې ساحې تثبیتول.

۲ – د ملي ګالرۍ له ځایه د کره معلوماتو د راټولولو په موخه د مسلکي کارکوونکو ګمارل.

۳ – له ملي ګالرۍ څخه د ګالرۍ د افتتاح لپاره د یو شمېر اثارو لېږل.

۴ – د ولایتي ګالریو څخه دوامداره څارنه او راپور اخیستل.

۵ – د ملي ګالرۍ او نورو خصوصي ګالریو تر منځ د اړیکو ټینګول.

**<u>درېیم فصل</u>**

**<u>د غلام محمد میمنه ګي د هنري زده کړو آمریت</u>**

**<u>د زده کړو آمریت فعالیتونه</u>**

**اوومه ماده:**

د غلام محمد میمنه ګي د هنري زده کړو آمریت لاندې فعالیتونه ترسره کوي:

۱ – د هنري څانګو زده کړې د تکړه ښوونکو له لوري په علمي او نظري بڼه زده کوونکو ته تدریس کېږي.

۲ – د نقاشی هنر زده کري لکه: د روغني رنګ ، اوبو رنګ، او پنسل په مرسته د هندسي موډلونو، د انسان، حیوان او الوتونکو د بدن غړیو، طبعي منظرو او د چاپېریال د ټولو څېزونو او توکو طراحي.

۳ – د ګرافیک څانګې زده کړې، لکه: (میناتوري، خطاطي، د کارټون او کمپیوټر ډیزاین) او لاسي صنایع لکه: (ګنډل او د کرشنیل اوبدنه).

۴ – د مسلکي ښوونکو له لوري په عملي او نظري بڼه د مجسمه جوړونې زده کړې.

۵ – د ماشومانو د هنر زده کړې، لکه: رسامي، خطاطي، لاسي کار او د موم په مرسته د ټولو څېزونو او شکلونو جوړول.

<u>**د شاملیدو شرایط**</u>

**اتمه ماده:**

هغه غوښتوونکي چې غواړي د غلام محمد میمنه ګي په ښوونیز مرکز کې د زده کوونکي په توګه شامل شي، د لاندې شرایطو منوونکي دي:

۱ – هغه غوښتوونکي چې قانوني عمر ته رسېدلی وي، د غوښتنې د فورم له بشپړېدو سره باید څلور قطعې انځورونه، د تذکرې کاپي او ټلیفون شمیره له ځان سره ولري او هغه کسان چې قانوني عمر یې نه وي بشپ کړی، د فورم د ډکېدو پر مهال یې باید مور او پلار حاضر وي.

۲ – غوښتونکي د ازموینې له ورکولو وروسته جذبېږي.

۳ – د هنر لېوال وي.

۴ – د هنري څانګو علاقمندان د دوی د غوښتنو پر اساس جذبېږي.

۵ – په دغه ښوونیز مرکز کې ځوانان، تنکي ځوانان، ماشومان او نور مینوال کولی شي، په هنري پروګرامونو، لکه: (نقاشي، خطاطي، میناتوري، د کمپیوټر ډیزاین، کارټون، د ماشومانو هنر، کریشنل اوبدنه، خیاطي او مجسمه جوړونه) کې ګډون وکړي.

**<u>د زده کړې شرایط</u>**

**نهمه ماده:**

د غلام محمد میمنه گي په ښوونیز هنري مرکز کې د زده کړې شرایط په لاندې ډول دي:

۱ – زده کړې په بشپړ ډول وړیا دي.

۲ – د څانگو د زده کوونکو زده کړه په دوو وختونو کې له مهالوېش او درسي پلان سره سم د دولت په رسمي کاري ورځو کې ترسره کېږي.

۳ – په یوه ټولگي کې د زده کوونکو شمېر باید تر (۲۰) کسانو ډېر نه وي.

۴ – د خیاطي او کرشنیل اوبدلو څانگو له زده کوونکو پرته د نورو څانگو زده کوونکي نه شي کولی دوه څانگې تعقیب کړي.

۵ – د غلام محمد میمنه گي هغو زده کوونکو ته چې ډېری یې د ښوونځیو زده کوونکي دي، د څلورنیم میاشتنیو او کلنیو ازموینو پر مهال شل ورځې رخصتي په نظر کې نیول شوې ده.

**<u>د زده کوونکو مکلفیتونه</u>**

**لسمه ماده:**

(۱) د غلام محمد میمنه گي د هنري زده کړو مرکز زده کوونکي مکلف دي، چې لاندي موارد په پام کې ونیسي:

۱ – هغه زده کوونکي چې قانوني عمر ته رسېدلي وي، تړون لیک خپله لاسلیک کولی شي او که چېرې قانوني عمر ته نه وي رسېدلي، تړون لیک یې د ولي له لوري لاسلیک کېږي.

۲ – زده کوونکي مکلف دي، چې د خپلې خوښې وړ څانگه وټاکي.

۳ – زده کوونکي مکلفیت لري، چې د ټولگي د ښوونکي له لوري ورسپارل شوې د هنري زده کړو دندې ترسره کړي.

۴ – زده کوونکي دي اداري ته د قانون خلاف توکو لکه: ( چاړه، توپانچه، چاقو) او گران بیه توکو لکه: (زېورات، ډېرې پیسې او نورو) له راوړلو ډډه وکړي، چې د ستونزو د رامنځته کېدو لامل نه شي او که څوک یې له ځانه سره ولري، له دوی سره قانوني چلند کېږي.

۵ – زده کوونکی باید د کامیابي(٦٠) نمرې تر لاسه کړي، که چېرې زده کوونکی په دوو ازموینو کې ناکام شي، اېستل کېږي.

(۲) که زده کوونکی پرله پسې پنځه ورځې حاضر نه شي او په دې اړه هنري مرکز ته خبر ور نه کړي، یا بې له کوم منوونکي لامل څخه ټولگی پرېږدي او یا د زده کوونکي متفرقه غیر حاضري د کال په اوږدو کې له (۳٦) ورځو واوړي، له مرکز څخه ایستل کېږي.

<u>**د ښوونیز مرکز د فراغت اسنادو شرایط**</u>

**یوولسمه ماده:**

(۱) زده کوونکي د زده کړو د دورې له پای ته رسېدو او د شته شرایطو له بشپړېدو وروسته د غلام محمد میمنه گي د هنري زده کړو له مرکز څخه د فراغت سند ترلاسه کولو وړ گڼل کېږي. د دریو نورو څانگو (کمپیوټر، خیاطي او کرشنیل اوبدونکي) زده کوونکي چې د دوی د ښوونیزې دورې وخت یو کال دی له دې امره مستثنی دي. ځکه د دوی او پاتې نورې څانگې (۱۸) میاشتې دوام کوي، چې له درسي پلان سره سم د زده کړو له بشپړېدو او استعداد ثابتېدو وروسته د فراغت سند ورکول کېږي.

۱ – زده کوونکی باید ښوونیزه دوره بشپړه کړي.

۲ – د زده کوونکو ټول اثار د ټاکل شوې درې کسیزې ډلې له لوري ارزول کېږي.

۳ – زده کوونکي مکلف دي، چې د ښوونیزې دورې له بشپړېدو وروسته د غلام محمد میمنه گي ښوونیز مرکز ته خپل پایلیکونه وړاندې کړي.

(۲) د دې مادې د (۱) فقرې ثبت شوي زده کوونکي د ټاکل شوې دورې له پای ته رسېدو وروسته د یوه هنري اثر په وړاندې کولو سره، د فراغت سند د اطلاعاتو او فرهنگ د وزیر لخوا د هنرستان ریاست او غلام محمد میمنه گي د هنري زده کړو له آمریت څخه تر لاسه کوي.

(۳) له فراغت وروسته یو هنري اثر چې د زده کوونکي له خوا ترتیب او برابر شوی وي، د هنرستان ریاست د غلام محمد میمنه گي په دایمي نندارتون کې د زده کوونکي په نوم اېښودل کېږي.

**د ښوونيز مرکز آمريت مکلفيتونه**

**دوولسمه ماده:**

د غلام محمد ميمنه گي ښوونيز مرکز آمريت لاندې مکلفيتونه لري:

١ – زده کوونکو ته د هنري زده کړو د منظم پلان جوړول.

٢ – د زده کړو په بهير کې د هنري زده کړو د څانگو کنټرول، رهبري او مديريت.

٣ – ښوونکو او مديرانو ته د مسلکي او هنري مشورو ورکول.

۴ – زده کوونکو ته د علمي او نظري ورکشاپونو جوړول.

۵ – په هنري ننداراتونونو کې د زده کوونکو د آثارو معرفي کول.

## څلورم فصل

## وروستي حکمونه

**د پلي کېدو ساحه**

**ديارلسمه ماده:**

دا کړنلاره د ملي گالرۍ آمريت، د غلام محمد ميمنه گي ښوونيز آمريت او د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت په هنرستان رياست کې د پلي کېدو وړ ده.

**تعديل**

**څوارلسمه ماده:**

د دې کړنلارې مواد د هنرستان رياست په وړانديز او د اطلاعاتو او فرهنگ د وزير په منظورۍ د تعديل وړ دي.

**د نافذېدو نېټه**

**پنځلسمه ماده:**

دا کړنلاره د اطلاعاتو او فرهنګ د وزیر د منظورۍ له نېټې وروسته نافذېږي.

دا کړنلاره په (۴) فصلونو او (۱۵) مادو کې په ۳ / ٦ / ۱۳۹۵ نېټه نافذه شوه.

**د تدوین هیئت**

| | | |
|---|---|---|
| سیدمحمدصابر هاشمي | صابره رحماني | محمدهاشم شارق |
| د غلام محمد میمنه ګي د هنري زده کړو آمر | د ملي ګالرۍ آمره | د هنرستان رئیس |

دلاور نذیر زوی

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت حقوقي مشاور

وکتل شو

منظور دی.

عبدالباري جهاني د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر